ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-21

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**شہاب الدین**
پی ایچ ڈی ریسرچ سکالر، شعبہ پشتو، ملاکنڈ یونیورسٹی
**ڈاکٹر مظہر احمد**
اسسٹنٹ پروفیسر، شعبہ پشتو، ملاکنڈ یونیورسٹی

# د سید خالقداد امید په شاعرۍ کښې د محاورو استعمال

**Shahab Uddin***
PhD Research Scholar at Pashto Department, University of Malakand.
**Dr. Mazhar Ahmad**
Assistant Professor, Pashto Department, University of Malakand.

***Corresponding Author:** dawodkhel@gmail.com

## Use of Idioms in the Poetry of Syed Khaliqdad Umeed

An idiom is a type of phrase or expression that has a meaning that can't be deciphered by defining the individual words, and An idiom can be used in dialogue to give more insight into who a character is. Syed Khaliqdad Umeed has used idioms in a new way in his poetry. In this paper, the use of idioms in the poetry of Syed Khaliqdad Umeed has been researched.

**Key Words:** *Idioms, Pashto Literature, Poetry, Syed Khaliqdad Umeed.*

په اصطلاح کښې محاوره د اهل زبان د خبرو انداز او اسلوب ته وايي خو د اهل زبان امروزه خبرو ته امروزه هم وايي نو څکه مونږ وئيلے شو چې " هغه خبره چې کوونکي يې د لغوي معنې په مناسبت يو خاص مفهوم د پاره استعمالوي نو هغې ته محاوره وائي."[١]

"محاوره د يو شمېر لفظونو داسې ښائسته ترتيب و

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-21
ماخذ تحقیقی مجلہ

ترکیب دے چې د اصلي معنو په ځائې مستعار مطلب په ډېر مهذب او موثر ډول ښکاره کوي. محاوره هم کله د متل فولکوري ادب توګې دے د دې زېږېدونکي يو کس نه بلکې ټول اولس دے."[۲]

لعل بادشاه خيالي ليکي چې:

" محاوره مکمله جمله نهٔ وي بلکې دا په خپله د يوې بلې جملې محتاجه وي ،محاوره په خپله د يوې بلې داسې جملې محتاجه وي چې د محاورې استعمال په کښې په صحي توګه وکړے شي او سړے پرې په اسانه پوهه شي."[۳]

په دغه حواله ډاکټر عبدالله جان عابد داسې ليکي.

"محاورہ عربی زبان کا لفظ ہے اس کا مادہ ہے جس کے معانی ہیں گردش کرنا، پھرنا، رواں دواں. اصطلاحی حوالے سے محاورے سے مراد یہ ہے کہ دو یا دو سے زائد الفاظ کا ایسا مجموعہ جس میں ایک فعل بھی شامل ہو اور وہ اپنے حقیقی اور لغوی معنوں کی بجائے مجازی اور اصطلاحی معنوں میں استعمال ہو اور یہ استعمال اہل زبان کی بول چال کے مطابق ہو."[۴]

محاوره په مجازي معنو کښې استعماليږي. د پښتو ژبې د ډېرو متلونو او محاورو تر مېنځه تعلق او نزدې والے هم شته، د محاورې او متلونو استعمال پښتانهٔ په عامو خبرو اترو کښې کوي لکه څنګه د محاورې باره کښې خبر الحکيم حکيم زئي داسې ليکي:

"د پښتو محاوره نن سبا د متل نه زياته په استعمال کښې ده هر څوک چې خبره کوي نو په طنز (څنګزنه) کښې محاوره ضرور وائي د محاورې الفاظ کم وي خو

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-21



جامعیت پکښې ډېر وي - داسې وي چې په کوزه کښې
چا سمندر بند کړے وي."[5]

د یوې ژبې په بلې ژبې خامخا څۀ نه څۀ اثر وي څۀ ورنه اخلي او څۀ ورله ورکوي او بیا چې دغه ژبې خپلو کښې ګاونډۍ یا څۀ بل څۀ نزدې والې لري نو اثر یې نور هم زیات شي. دغه شان فارسي د پښتو ګاونډۍ ژبه ده چې ډېر څۀ تر ېنه پښتو ژبې خپل کړي دي او د عربۍ ژبې سره زمونږ مذهبي تړون دے ځکه خو پښتو ژبه د عربۍ د اثراتو نه هم بچ نۀ ده پاتې شوې. محاوره هم د عربۍ ژبې لفظ دے او پښتو ته ترې د فارسۍ په ذریعه راغلے دے

"د محاورې او متل متعلق په دې نتیجه رسیدلي یو
چې لکه څنګه متل د ژبې مناسبت دے. د دې په وئیلو سره
په ژبه کښې حسن پیدا کیږي او د بیان خوږ والې زیاتیږي
هم دغه رنګ محاورې ته هم د دنیا په هره ژبه کښې اهمیت
حاصل دے. محاوره چې په جمله کښې استعمال شي نو د
دې په ذریعه د حکمت او د دنیا د تجربو داسې اظهارونه
کیدې شي کوم چې د را روان نسل د پاره د رهبرۍ او لار
ښودنې سوب جوړیږي."[6]

محاوره په لغت کښې خبرو اترو ته وئیلې کیږي. دغه خبرې اترې کۀ د اهل زبان د روزمره خبرو اترو مطابق وي یا مخالفې خو په اصطلاح کښې خاص و اهل زبان د عامو خبرو اترو یا د بیان طرز ته محاوره وئیلې شي - پس لازمه ده چې محاوره به د دوه یا د دوو نه زیاتو الفاظو وي ځکه چې مفرد لفظونو ته روزمره عامې خبرې یا طرز بیان نۀ شي وئیلې کېدې.

د محاورې پېژندګلو د محاورې جوړښت او د واقع کېدو د پاره

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-21


ضروري شرطونه د قواعدو پابندي د مصادر استعمال او د فعل په مجازي معنو کښې استعمال لازمي ګڼلے شي.

"اولاً یہ کہ محاورہ اہل زبان کے قواعد وضوابط سے منافی نہ ہو بلکہ ان کے عین مطابق ہو. ثانیاً یہ کہ دو یا دو سے زیادہ الفاظ میں اس کی تشکیل ہو اور مصدر کی علامت ("نا" اردو میں اور "ل" پشتو میں) اس کی امتیازی خوبی کی صورت پیدا کرے. ثالثاً یہ کہ مجازی معنوں میں استعمال ہو اور اس کے لغوی معنٰی مراد نہ لئے جائیں کیونکہ محاورے کی تشکیل میں اگر اس کے لغوی معنٰی معنویت کا سہارا لیا جائے گا تو محاورہ وقوع پذیر نہیں ہو گا."[۷]

محاوره د اهل زبان د قواعد او اصولو په مطابق استعمال نه مراد دا دے څۀ رنګې يې اهل زبان په امروزه بول چال کښې استعمالوي هغه شانې استعمال به د قواعد او اصولو په مطابق وي.

"پانچ اور سات دو الفاظ ہیں جن پر الگ الگ لغت کا اطلاق ہو سکتا ہے مگر ان میں سے ہر ایک کو محاورہ نہیں کہا جائے گا بلکہ دونوں کو ملا کر جب پانچ سات بولیں گے تب محاورہ کہا جائے گا. یہ بھی ضروری ہے کہ وہ ترکیب جس پر محاورہ کا اطلاق کیا جائے قیاسی نہ ہو. بلکہ معلوم ہو کہ اہل زبان کو اسی طرح استعمال کرتے ہیں. مثلاً اگر پانچ سات، یا سات اٹھ یا اٹھ سات پر قیاس کر کے چھ اٹھ یا اٹھ چھ یا سات نو بولا جائے گا تو اس کو محاورہ نہیں کہے گی، کیونکہ اہل زبان کبھی اس طرح نہیں بولتے."[۸]

سيد خالقداد اُميد د يو شاعر په حېث په خپل کلام کښې د محاوراتو استعمال هم کړے دے چې د کلام خوند، حسن او ښائست پرې سبوا شوے دے. په شاعرۍ کښې يې نوې او زړې محاورې په ګڼ تعداد کښې مونډې شي لکه سترګې خلور کول، زړۀ سپينېدل، په مخه اخستل، لوګے کېدل، پښې نيول، پشاړې کول، لار ښودل، غاړه ابنبودل، ملا تړل، سترګې سترګې کېدل او لاسونه مړول وغېره. دا د سيد خالقداد اُميد هغه

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-21
ماخذ تحقیقی مجلہ

محاورې دي کومې چې په استعمال کښې راغلي دي.

سيد خالقداد اُميد د نوو او زړو محاوراتو استعمال په فنکارۍ سره کړے دے په ځينو ځايونو کښې يې زړو محاوراتو ته نوے معنويت هم ورکړے دے. د محاوراتو ښکلي استعمال د دهٔ د شاعرۍ د فني اړخ يو ښکاره او ښائسته صفت ګڼل پکار دي ځکه چې د محاوراتو په استعمال کښې يې څهٔ فني خامي او کمزوري نهٔ محسوسيږي.

د سيد خالقداد اُميد په شاعرۍ کښې په ګڼ شمېر کښې د محاوراتو استعمال شوے دے چې دلته ترېنه څو مثالونه وړاندې کولې شي:

سترګې ځلور کول۔ په غور کتل ،په زېر زېر کتل

انتظار کښې زما دوه سترګې ځلور شوې
اے ګلرنګې سترګې ستا د چا په لور شوې [9]

زړهٔ سپينېدل۔ خفګان ختمېدل، بدي ختمېدل

تل په خپلو متو به پوره پوره يقين لرئ
هم په ښو اخلاقو به هر چا ته زړګے سپين لرئ [10]

په مخه کول يا په مخه اخستل ۔ زغلول، تښتول، ماتې ورکول

مارغان به تول په جالو کښې وي زهٔ يمه بې کوره
اخستې به يې په مخه وي تنګي له ډېره شوره [11]

لوګے کېدل۔ قربانېدل، زارېدل

دې حقيقت کښې دا زمونږ د سوکالې خبرې
چې لوګے کيږي يو تر بله محبت غواړمه [12]

غاړه اېښودل۔ خبره منل، دلاسه کېدل، رضا کېدل

دا خبر خدائېګو ډېر تريخ وهٔ
خو ما کېښوه ورته غاړه [13]

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-21

پشاړي کول۔ خندا کول، مذاق، سپکاوي کول

تــهٔ چــې راغلــے ځــواني لاړه
دا دے اوکـــړه څـــهٔ پشـــاړه[۱۴]

پښه نيول ۔ ايساريدل ،يو ځائي ته نهٔ تلل، يوځائي ته د تللو نه ژغورل،

جانــه څــهٔ خــو پښــه نيــولي شــه پــه تلــو کښــې
گـــــــوره زهٔ دي گرځومــه پـــه ککــو کښــې[۱۵]

سترگي سترگي کيدل ۔يادېدل، مخي مخي ته کيدل، دزړهٔ نقشه په مازغه کښې گرځيدل

لکـه نـرگس پـه انتظـار کښـې سـترگي سـترگي شـومه
مـا پـــه هـر گـل هـري کلـۍ کښـې لټـولي يـې تـــهٔ[۱۶]

ملا تړل۔ د چا سره مرسته کول ۔ همت کول،

د وطـن کـاني بـوټي دي لکـه لعلونـه کلکـه مـلا اوتـړئ
واه کلکـه مـلا اوتـړئ کـړو د وطـن بـه خدمـــتـــونـــه[۱۷]

لمن نيول ۔ ملگرتيا کول

دهٔ تـل پـه دوسـتۍ کښـې بـه هـر چـا کـړي غيـرت
چـــا لمـــن نيـــولي چـــې د دهٔ پـــه صـــداقت[۱۸]

منزل ته رسيدل۔۔ کاميابيدل

رسـي خپـل منـزل تـه چـې پـه تـگ نـهٔ سـتړے کيـږي
شابسـې تکـــــړه شـئ چـې وطـــن مـــو ابـاديږي[۱۹]

د خر نه ايراني اس جوړول۔ دهوکه ورکول، خراب او بيکاره څيز نه نوے څيز سازول

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-21
ماخذ تحقیقی مجلہ

دلته کښې د خر نه ایرانې اس جوړولے شي
دلته تپ شاروي په ګرانه بیعه خرخولے شي [۲۰]

خاورې په سر نوستل۔ ارمان کول، افسوس کول

په لاس به څۀ رانه شي کۀ په سر خاورې نولم
ما پریږده لږ ساعت له چې بچوړې اووینم [۲۱]

لوګے کول ۔ قربانېدل، زاریدل

ګټه زما خپله دۀ هم خپل زما تاوان دے
ځان به تري لوګے کړم د خپل ځانه په ما ګران دے [۲۲]

لاسونه مروړل۔ ارمان کول

بیا چرته مستري سره ناست وي مزدوري کوي
ډېر زیات وي ستومانه مروړي خپل لاسونه [۲۳]

په اوښکو ډیوې بلول ۔ ډېر زیات انتظار کول

ما کړې ډیوې ورته په اوښکو بلې
کړم انتظار خدایه سحر راولې [۲۴]

لار بدلول۔ مړه خوا کېدل

راشي کۀ یې ګورئ اشنا لویه لار بدله کړه
ځي به وروستو ګوري شه یې دغه شان ادا نصیب [۲۵]

وینه سپینېدل (ځان ځان له کېدل

دي د ځان ځانۍ حرص جوړ کړے یو قیامت دے
ځکه وینې سپینې شولې له یو بله نفرت دے [۲۶]

د دې مختصر بحث نه پس مونږ دې نتیجې ته رسېږو چې سید خالقداد امید خپل کلام کښې د محاوراتو استعمال ډېر په ښکلي

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-21

ماخذ تحقیقی مجلہ

انداز کړے دے چې د کلام خوند ، حسن او ښائست پرې سېوا شوے دے . په شاعرۍ کښې یې د نوې او زړې محاورې استعمال د کلام خوند یو په دوه ښائسته کړے دے.

## حوالې

١ قلندر مومند ، فرید صحرائي، دریاب، پښتو لغت، پېښور، خیبر پختونخوا ټېکسټ بک بورډ ، ١٩٩٤ء، مخ ١١٧٧

٢ بوډا خېل، وکیل، خېر الحلیم حکیم زئ ،د پښتو محاورې، راهي ندیم یونس پرنټرز، دریم خل ٢٠١١ء، مخ ٥

٣ خیالي ،لعل بادشاه،د پښتو متلونو تهذیبي و لساني مطالعه، مخ ٣٠، ٣١

٤ عابد ، عبدالله جان ،پشتو محاوره تهذیبي ولساني مطالعه، پشاور،پشتو اکیډیمي، ٢٠٠٩ء، مخ ١٧

٥ بوډاخېل،وکیل خیر الحکیم حکیم زي ،د پښتو محاورې، مخ ٦، ٧

٦ خیالي،لعل بادشاه ،د پښتو متلونه تهذیبي و لساني مطالعه، مخ ٣٤

٧ عابد ، عبدالله جان، ډاکټر، پشتو محاوره تهذیبي ولساني مطالعه، مخ ٢٠

٨ حالي، الطاف حسېن ،مقدمه شعر وشاعري ، لاهور، خزینه علم و ادب، ٢٠٠١ء، مخ ١٤٣

٩ اُمید ،سید خالقداد ، کلۍ ګل شوې، پېښور، عامر پرنټنګ پریس، ٢٠١٢ء، مخ ٢٢٨

١٠ اُمید ،سید خالقداد ، غنچې، پېښور، دي پرنټ مین پرنټرز اینډ پبلشرز، ٢٠١٢ء، مخ ١٥٠

١١ همدغه اثر، مخ ٩٨

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-21

١٢ اُمید، سید خالقداد، کلیِ گل شوي، مخ ۴۲
١٣ همدغه اثر، مخ ۴۹
١٤ همدغه اثر، مخ ۴۹
١٥ همدغه اثر، مخ ١٩٥
١٦ همدغه اثر، مخ ١٢٧
١٧ اُمید، سید خالقداد، غنچې، مخ ١٣۴
١٨ همدغه اثر، مخ ٣٠
١٩ همدغه اثر، مخ ٣٨
٢٠ همدغه اثر، مخ ۴٨
٢١ همدغه اثر، مخ ٩٨
٢٢ اُمید، سید خالقداد، ستوري، مخ ٢۵
٢٣ اُمید، سید خالقداد، غنچې، مخ ١۴۵
٢٤ اُمید، سید خالقداد، کلیِ گل شوي، مخ ٢٢٠
٢٥ همدغه اثر، مخ ٢٠۴
٢٦ اُمید، سید خالقداد، غنچې، مخ ١٩٧